دکندهار ولایت دامان ولسوالی د تور کوټل دساحی د تعمیراتی ذبرو پروتوکول د جامدو کانو ریاست او(عتیق الله

) تر منځ

په دغه پروتوکول کی د جامدو کانونو ریاست د خرڅونکی په صفت

د(عتیق الله)شرکت د مشتری په صفت.

۱ ـقراردادی مکلف دی چه د(1000)متر مکعبه تعمیراتی ذبری قیمت دفی متر مکعب مبلغ (۲۷)افغانی له قراره چه جمله مبلغ(27000)افغانی گیږی د معدن د ساحی په شمول پیشکی د کانو ریاست په حساب افغانستان بانک ته تحویل کړی.

۲ ـ قراردادی مکلف دی چه په حجم د(1000)متر مکعبه تعمیراتی ذبری د(۶۰)ورخو په موده کی استخراج او انتقال کړی.

۳ ـ د لوڅونی ؛استخراج او انتقال مصارفات په قراردادی پوری اړه لری.

۴ ـدذبرو د استخراج او انتقال په جریان کی که کوم د معدنکاری داصولو او مقرراتو خلاف عمل تر سره شی مسولیت یی عام و تام د قراردادی پرغاړه دی.

۵ ـ قراردادی نشی کولای چه خپل تسلیم شوی بلاک جمعا یا جزا کوم بل شرکت یا شخص ته حواله کړی.

۶ ـ که چیری د پروتوکول په جریان کی غیر مترقبه حوادث چه دهغی پیشبینی دانسان د ذهن څخه خارج وی لکه(جنگ ـحریق ـ سیلاب ـ زلزله)او داسی نور پیښیږی قراردادی مکلف دی جه په (۴۸) ساعتو کی دکانو ریاست ته رسما اطلاع ورکړی.

۷ ـمالیه ـصکوک او نور تادیاتی تکسونه د قراردادی پرغاړه دی.

۸ ـد کانو ریاست مکلفیت لری چه وخت پروخت د قرلردادی د استخراجی فعالیت څخه څارنه وکړی او کوم نواقص چه پیدا کیږی رهنمایی ورته وکړی.

۹ ـقراردادی مکلف دی چه د خپلو کارگرانو لپاره صحی او ایمنی شرایط برابر کړی.

۱۰ ـقراردادی مکلف دی چه د چاپیریال ساتنی شرایط مراعات کړی.

۱۱ـ قراردادی نشی کولای چه بیله معقول عذره چه په قانون کی ذکر شوی وی د پروتوکول د معین معیادتر پوره کیدو تر دمخه پروتوکول یو جانبه بسخ کړی.

۱۲ـ که چیری د پرو توکول په جریان کی د مشتری د طرفه کوم ضرر امیزهاعمال او فاحش غبن صورت ونیسی چه بدولت منافع ته ضرر ورسوی یدی صورت کی بدولت طرف کولای شی چه پروتوکول یو جانبه فسخ کړی او مشتری د خساری پا جبران مکلف دی.

۱۳ـ پروتوکول په (۱۳) مادو کی ترتیب او د ولایت دمحترم مقام تر منظوری وروسته داعتبار وړ دی.

په درنښت

د کانو د معین امضا

د ولایت دمحترم مقام ملاحظه شد

دقراردادی امضا